**بسم الله الرحمن الرحيم**

## روژه کې ایماني او اخلاقي اړخونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **«وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ * الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ »ژباړه:« پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسي د پروردګار د بښنې او د هغه جنت خوا ته تللې ده، چې هغه (جنت) لکه د اسمانونو او ځمکي په شان پراخ دی، او هغه د هغو خداېه وېرېدونکيو خلکو لپاره تیار کړای شویدی؛*د هغو لپاره چې د بډایی او بیوزلی په دواړو حالاتو کښي مال مصرفوي، د غوسې زغمونکي دي او د نورو لنډ پاري بخښي. داسي نېکان خلك د خدای ډېر خوښ دي؛»**، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

الله جل جلاله روزه د لوړو هدفونو لپاره ګرځولي ده چې ډېر لوړ حکمتونه پکې شته دي دا د ایمان او د اخلاقو یو مدرسه ده څوک چې په قرآنکریم کې فکر وکړي نو وبه ګوري چې الله جل جلاله د روژي مقصد پکي بیان کړی دی لکه چې الله جل جلاله فرمایی:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ»ژباړه:« اې مؤمنانو**!** پر تاسي روژې فرض کړای شوې، لکه چې ستاسي څخه د مخکني پېغمبرانو پر پیروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چې په تاسي کي د پرهېزګاری صفت پیدا شي» پرهیزګاري یو لوړ ارزښت دي چې د خیر او د ښیګڼي خصلتونه پیاوړي کوي نو د همدي لپاره په قرآنکریم کي دا د ایمان اخلاقو ارزښتونو سره یو ځاي راغلي دی لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ»ژباړه:« نېکي یوازي دا نه ده چي تاسي (د لمانځه په وخت کي) خپل مخونه ختیځ لوري ته واړوئ، یا لوېدیځ لوري ته؛ بلکي نېکي دا ده چي انسان پر الله، د قیامت پر ورځ، پر پرښتو، د الله پر نازل کړای شوي کتابونو او د هغه پر پېغمبرانو د زړه له کومي ایمان راوړي. او د الله په مینه کښي خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، مسافرو، دروېزګرو او د مریانو په ازادی مصرف کړي، لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي. او نېکان هغه کسان دي چي کله وعده وکړي تر سره یې کړي او د تنګسي او غمونو په وخت کښي او د حق او د باطل په جګړه کښي صبر وکړي، همدا رښتیني او همدا پرهېزګار خلك دي».

د ايماني او اخلاقي اړخونو د جملې څخه چې د روژي په مباركي مياشت كې شته د ځارني ارزښت دي روژه پټپله د بنده او د رب ترمنځ يو راز دی چې د الله ماسواءبل څوک پري نشي پوهيدلي او دا يقيني دليل پدي باندي دی چې انسان پدي پوهيږي چې يوازي الله جل جلاله په ښكاره اوپټه هر څه باندي پوه دي لكه چې الله جل جلاله فرمايی:« وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ»ژباړه:« [اې پيغمبره (ص)!] ته چې په هر حالت كښي اوسې او له قُرآن څخه چې هر څه اورې، او اې خلكو تاسي هم چې څه كوئ؛ د هغو ټولو په دوران كښي موږ تاسي ګورو. هيڅ د يو بڅري په اندازه شی په اسمان او ځمكه كښي داسي نشته، نه وړوكی نه غټ، چې ستا د پروردګار له نظره پټ وي او په يو روښانه كتاب كښي (ليكل شوی) نه وي.» د ځارني مقصد همدا دی چې د روژي د مباركي مياشت اجر او ثواب ډير لوړ دی ځكه چې د هغه ارزښت باندي د الله ماسواء بل څوک نشي پوهيدلي لكه چې نبي كريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې د روژي په مباركه مياشت كې د انسان اعمال څو چنده كيږي نيكي په لس چنده باندي كيږي تر اوه سوو پوري رسيږي الله جل جلاله فرمايی چې روژه له ما لپاره دي او ددی بدله زه خپله وركومه ځكه چې انسان خپل شهوت او خواړه زما لپاره پريږدي نود روژه دار لپآره دا مناسبه ده چې پخپل روژه كې ځان پدي يقني كړي چې د الله جل جلاله له لوري ځارل كيږي او دده عمل او ټول كارونه په روژه او روژي څخه پرته په نورو وختونو كې هم د الله له لوري ځارل كيږي نوپه سمه توګه باندي كارونه ترسره كړي.

همدارنګه روژه د صبر لپآره يو مدرسه ده چې په ټولو شكلونو باندي بايد صبر ترسره شي بايد په روژه كې د طاعاتو د اداء كولو لپاره بايد صبر وشي همدارنګه د حرامو كارونو څخه انسان ځان وساتي همدارنګه د شهوتونو څخه انسان ځان وساتي لكه چې رسول الله مبارک د روژي مباركي مياشت ته د صبر مياشت ويلي دي لكه چې فرمايلي دي د صبر د مياشتي روژه اود هري مياشتي دري ورځي روژه داسی دی لكه د ټول عمر ورژه د نيولي دي نو د روژه دار لپآره دا مناسبه ده چې د صبر ځان كې پدا كړي او د كيني څخه ځان وساتي او همدارنګه هر هغه كار څخه ځان وساتي چې د الله جل جلاله له لوري حرام ګرځولي شوي دي او د هغه چا سره نيكي وكړي چې ورسره بد كوي لكه چې نبي كريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: كه چيرته په تاسو كې روژه ونيسي نو هغه د بد اورد نه وايی او همدارنګه كه څوک ورته بد رد ووايی او ورسره جګړه وكړی نو ورته ود وايی چې روژه دار يم.

همدارنګه د روژه دار لپآره دا لازمه ده چې دروغ ونه وايی چل او فريب ونكړي خيانت ونكړي دچا غيبت بايد ونكړی لكه چې نبي كريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې څوک د دروغو خبري پرې نږددي او په هغه باندي عمل كول پرنږدي نو الله جل جلاله خو ديته اړتيا نلري چې د هغه لپاره څوک خوراک او څښاک پريږدي .

*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونكی دی، او زه ګواهي وركوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي

ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

د روژي دمبارکي میاشتي او د روژي دمهمو مقصدونو څخه بل هم دادی چې د خلکو ترمنځ کفالت رامنځته شی او انسان ددی احساس وکړي چې ددی ترڅنګ ور ګردچاپیره نور هم څوک وسیږي چې هغوي اړمند دي او په هغوي باندي رحم وکړي او خواخوږي وښایی او د هغوي اړتیاوي پوره کړي نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړای شوه چې کوم اسلام غوره دی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې بیوزلو ته خواړه ورکول او همدارنګه هغه چا باندي سلام اچول که پیژني اوکه نه پیژني.

دا چې د کفالت او همدارنګه د سخا او او اړمندو ته د خواړو ورکول اجر دیر لوي دی او دا په ټولو وختونو کې ثواب لري خود ورژي مبارکه میاشت کې یی ثواب ډیر زیات دی لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې روژه دار ته افطار ورکړي دا داسی دی چې د هغه په څیر یی روژه نیولي وي بغیر لدي چې د روژه دار د ثواب څخه څه را کم شي همدارنګه عبدالله بن عباس رضي الله عنها فرمایلی دي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خلکو کې ډیر زیات سخي وو او بیا په روژه کې سخا ډیره زیاته کوله.

نوڅومره ښه به وي چې مونږ د روژي څخه زدګړه وکړو او ایماني او اخلاقي ارزښتونه تری یاد کړو ترڅو د روژي مقصد او حقیقت ته ورسیږو جابر بن عبدالله رضی الله عنهما فرمایلي دي چې کله ته روژه نیسي نو خپل غوږونه سترګي ژبه د دروغو او ګناهونه څخه وژغوره او همدارنګه ګاونډي د مه ازاروه.

**الله زمونږ ګران هیواد مصر او د نړی د ټولو هیوادونو ساتنه وکړي.**